## د مرګ په اړه يوه کتنه

په يوه معنوي پروګرام کې، چې د "رڼا لاروياڼ" لخوا  د کابل په خوشحال خان مينه کې په 2021 کال کې ترتيب شوی و، ما د مرګ انديشۍ په اړه خبرې وکړې. اوس يې دلته د متن په ډول له تاسو سره شريکوم.

لکنت دونوی په خپل کتاب د بشر سرنوشت کې مرګ د طبيعت تر ټولو ستره اختراع ګڼي، که له تکاملي نظره ورته وګورو مرګ پېژندنه د انسان پېژندنې او ځان پېژندنې يو له مهمو مسايلو څخه ده، ځکه چې مرګ د انسان له تر ټولو مهمو او حساسو وجودي تجربو څخه شمېرل کېږي. د مرګ سمه پېژندنه د شخصيت د ودې نښه ده او د انسان د وجود د جوړېدو عامل ګڼل کېږي. برعکس، که څوک د مرګ مبهم تصور ولري، نو دا يې نيهيليزم (پوچ‌ګرايي) يا هدونيسم (خالصه لذت‌پسندۍ) ته اړوي. همدا وجه ده چې سقراط فلسفي پوهه د مرګ په اړه تفکر ګڼله.

مرګ د انسان تر ټولو حيرانوونکې او مبهمه تجربه ده، ځکه چې هر انسان يوازې يو ځل دا تجربه کوي. موږ د نورو د مرګ شاهدان يو، خو هيڅکله يې په خپل ذات کې نه وينو. د حکيمانو په وينا، موږ د مرګ علم‌اليقين لرو، خو حق‌اليقين نه لرو.

### د مرګ انديشۍ فلسفي نظريات

يوناني فيلسوف اپيکور وايي: کله چې موږ ژوندي يو، مرګ نشته، او کله چې مرګ راشي، موږ نه يو. د دې خبرې يو بل تعبير ويټګنشتاين کوي: مرګ د ژوند يوه پېښه نه ده؛ موږ ژوند نه کوو، څو مرګ تجربه کړو.

د دې نظريې له مخې، مرګ د ژوند له دايرې څخه بهر دی. مګر ابن سينا، هايدګر، او هګل بيا برعکس باور لري، چې مرګ د ژوند لازمي برخه ده، او بايد پرې فکر وشي. د سنکا له قوله، د مرګ په اړه فکر کول د مرګ ويره کموي.

ابن سينا مرګ د بدن د زړښت او فرسودګۍ پايله ګڼي، خو ملاصدرا بيا پر دې تمرکز کوي چې نفس له مادي نړۍ څخه مجرد او بې‌نيازه دی. البته، ابن سينا هم دا باور لري، خو هغه مرګ د نفس د حرکت او انتقال يو ډول ګڼي. ابن سينا دا هم وايي چې، برخلاف د عام تصور، انسان په ناڅاپي ډول نه مري، بلکې د ژوند پر مهال ورو ورو مري.

په تاريخي لحاظ، د دوو نظريو ترمنځ بحث دوام درلودلی:

- د اپيکور مکتب: چې پر ژوند تمرکز کوي،
- د فيثاغورث، سقراط او افلاطون مکتب: چې د مرګ انديشۍ پلوي کوي.

په معاصر دور کې، د اپيکوري مکتب ظاهراً بريالی شوی، خو دا بريا نهايي نه ده.

### د هايدګر د مرګ انديشۍ فلسفه

هايدګر د مرګ مسئلې ته ژور نظر لري او باور لري چې انسان يوازې هغه وخت کولی شي خپل اصيل وجود ته ورسېږي، چې د مرګ له حقيقت سره بې‌له کومې تېښتې مخ شي. ځکه مرګ انسان له روزمره ژوند او ابتذال څخه باسي.

هايدګر مرګ د انسان د ژوند اصلي برخه ګڼي، نه يو تصادفي پېښه. هغه وايي چې يوازينی شی چې د دازاين (انساني وجود) تر ټولو مخکې واقع کېږي او د هغه تر ټولو مهم امکان جوړوي، همدا مرګ دی. مرګ يوازينی حقيقت دی چې د انسان هر ډول اختيار ته د پای ټکی ږدي.

د هايدګر دغه نظر د سورن کيرکګارد له نظريې سره ورته والی لري، چې وايي: موږ د مرګ په وسيله محدود شوي يو.

**مرګ، تاریخ او نیهیلیزم (پوچ‌ګرايي)**

مرګ له تاريخي شعور سره ژور تړاو لري. د زرين‌کوب له قوله، په هر هديرې کې، پر هره دبره يو تاريخ ليکل شوی، چې کله يو څوک ورته وګوري، نو د تاريخ احساس پکې را ژوندی شي.

په مقابل کې، نيهيليزم يا پوچ‌ګرايي مرګ د ژوند بې‌معنا والي ثبوت ګڼي. دا فلسفه باور لري چې د انسان ژوند هيڅ هدف نه لري، بلکې يوازې د طبيعت يوه تصادفي تېروتنه ده. د دې فکر يو عمده دليل دا دی چې انسان، که هر کمال ته هم ورسيږي، بالاخره مري، او مرګ يعنی نيستي.

ژان پل سارتر وايي: مرګ يعنی په نيستي کې ډوبېدل. هغه حتی ځان‌وژنه د انسان يوازينی نجات بولي. همدارنګه، البر کامو وايي: يوازې يو جدي فلسفي مسئله شته، او هغه ځان‌وژنه ده.

د نيهيليزم دغه فکر موږ د خيام په رباعياتو کې هم موندلی شو:

ترکيب پياله چې درهم پيوست
بشکستن آن روا نميدارد مست
چندين قد سرونازنين سرودست
از بهر چه ساخت و برای چه شکست؟

**د مرګ انديشۍ ديني نظر**

له الهي نظره، د مرګ انديشۍ وېره او اندېښنه يوازې انسان ته ځانګړې ده، لکه څنګه چې د تل پاتې کېدو هيله هم يوازې انسان لري. د ديني تعليماتو له مخې، مرګ د ژوند پای نه دی، بلکې له يوه جهان څخه بل ته تګ دی.

په اسلامي عقيده کې، مرګ د دې نړۍ لپاره فنا ده، خو د بلې دنيا لپاره نوی زيږون ګڼل کېږي. له همدې امله، انسان مطلق مرګ نه لري.

پيامبران د مرګ په اړه ځانګړي تعليمات لري. د اسلام ستر پيغمبر (ص) فرمايي: تاسو د بقا لپاره پيدا شوي ياست، نه د فنا لپاره، او مرګ يوازې د يوې دنيا نه بلې ته انتقال دی.

خدای‌پرستان په دنيا کې ژوند کوي، خو زړه ورپورې نه تړي. دوی مرګ ناوړه نه ګڼي، ځکه چې پوهېږي مرګ يوازې د يوې فاني دنيا پای او د تل پاتې سعادت پيل دی. دا نظر موږ د حضرت علي (رض) په وينا کې هم وينو: زما د مرګ سره مينه د ماشوم د خپلې مور له شيدو سره د مينې نه زياته ده. (نهج‌البلاغه)

داکتر محبی